مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۴/۰۴/۰۵

# د فتوی په باره کې مختصر بحث

(شپاړسمه برخه)

له دین سره د تصوف ارتباط:

حدیث شریف دی: کُلُّ بدعةٌ ضلالةٌ و کُلُّ ضلالةٌ فی النار.

ترجمه: ټول بدعتونه ګمراهي ده او د ټولو ګمراهیو ځای دوزخ دی.

مُلایانو که د بدعت پر ضد، چي مخکي مو وویل، حضرت رسول اکرم ص ناروا بللی دی، اقدام کولای نو لومړی یې باید د تصوف د مفکورې او د صوفیانو د اعمالو او د صوفیانو زیارتونو ته د ساده ګانو او جاهلانو د ورتللو پر ضد عمل کړی وای؛ ځکه چي دا ټول بدعتونه دي او د ټولو نتیجه بالاخره شِرک ته رسیږي. شیخان له حق متعال سره د مستقیم ارتباط لرلو ادعا کوي او خپل هر عمل ته رحماني رنګ ورکوي. هر ګړی چي یې زړه سي ځانته له اسمان څخه الهام کوي او چي هر وخت یې زړه وغواړي نو پخپله حق متعال او یا رسول اکرم ص په خوب کي ویني او هدایتونه ورڅخه اخلي. په داسی حال کي چي د قرآن شریف آیة څرګند حکم کوي چي دا امتیاز یوازي د رسولانو او پیغمبرانو دی او هیڅ بشر له حق متعال سره خبری نه سي کولای.

و ما کان لبشرٍ ان یکلمواللهُ الّا وحیاً او من ورآی حجاباً او یُرسِلُ رسولاً فیوُحی بِإذنهِ ما یشاءُ إِنَّهُ علیٌ حکیم. سورة ۴۲ الشوری آیة ۵۱

(هیڅ بشر له الله سره خبری نه سی کولای مګر د وحی له لاري او یا د پردې له شا څخه او یا د رسول د رالیږلو له لاري چي د الله له اجازي او غوښتني سره سم د هغه پیغام ورسوي.)

په داسي حال کي چي سجده یوازي حق متعال ته راغلي ده او بل هرچاته سجده شِرک او کفر دی. خو شیخانو خپل مریدان سجدې ته بلل او دا یې د پیر د حق اداینه بلله. دا چي اوس عوام د شیخانو قبرونو ته سجدې کوي نو ګناه د لویو شیخانو ده چي خپل مریدانو ته یې ورښودلي او ورباندي واجب کړي دي. د صوفیانو په یوه کتاب کي راغلي دي:

« کله چي د ساز په وخت کي پر مرید باندي خاص حالت راسي او هغه خوښ سي نو دا سنت دی چي باید د پیر خواته ورسي او مخ د هغه په پښو پوري وموږي. . . . دا حالت چي مرید ته پیدا کیږي دا د پیر احسان دی او پر مرید باندي پیر ته سجده واجبه ده. په دې سجدې سره مرید د حق تعالی شکر او د پیر حرمت پر ځای کوي. او دا په طریقت کي یو ستر اصل دی» مروزي، مناقب الصوفیة ص ص ۶۰-۶۱

که مُلایان او مولویان او شیوخ الحدیث د علم خبري کوي او په علمیت نازیږي؛ شیخان او پیران د « حال» خبري کوي او وایي چي «حال»هرچاته نه میسر کیږی بلکه یوازي د حق د نازولو او اولیاءالله امتیاز دی. په دې برخه کي د شیخانو لویی خبري او لاپي معمولاً کفر ته رسیږي او هر شیخ چي ډېر لوی کفر ووایی هغه تر نورو معتبر وي. د مشهور شیخ او ولي جنید بغدادي  ماما شیخ سری سقطي، چي په عین وخت کي د جنید بغدادي پیر هم وو، یوه ورځ جنید ته وویل چي ته باید پر منبر باندي وعظ وکړې. خو جنید ورته ویل چي ته زما شیخ یې؛ چي ته موجود یې زه وعظ نه سم کولای او دا زما لپاره بې ادبي ده. جنید بالاخره مصطفی ص په خوب ولیدی او هغه ورته وویل چي ولاړ سه وعظ وکړه. کله چي سبا له خوبه راپاڅېد نو فیصله یې وکړه چي وعظ به کوي. سري سقطي ورته وویل چي ما غوښتنه درڅخه وکړه ودی نه منله، د بغداد د شیخانو خبره دي ونه منله، د مریدانو خبره دي ونه منله اوس چي مصطفی ص درته وویل نو وعظ کوې؟ جنید ورته وویل چي ته څه پوه سوې چي ماته حضرت رسول اکرم ویلي دي چي وعظ به کوې. سری سقطی ورته وویل ما الله تعالی په خوب کي ولیدی او هغه راته وویل چي رسول ص مي جنید ته ورواستاوه چي ورته ووایی وعظ وکړه.( نعوذبالله! )عطار، تذکرة الاولیاء جلد دوم ص ۱۰

حق متعال پر پیغمبرص باندي امر کوي چي ته ورسه جنید وعظ کولو ته مجبور کړه. تر دې به نو لویه بې ادبي او حتی کفر چیري وي. په داسي حال کي چي جنید خبریږي چي د حق متعال په امر پیغمبرص ورته رالیږل سوی دی چي باید وعظ وکړي؛ دی بیا هم لا ناز کوی او خپل ماما ته وایي چي زه په دې شرط وعظ کوم چي تر څلوېښت تنه زیات به راته ناست نه وي. سري سقطي د جنید دا شرط ورسره مني او یوازي څلوېښتو تنو ته اجازه ورکوي چي د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

جنید د وعظ په مجلس کي برخه واخلي. کله چي جنید وعظ کوي نو د هغوی ځلوېښتو تنو څخه ۱۸ تنه دومره د هغه د وعظ تر اغېزې لاندي راځي چی ځای پر ځای مري او نور ۲۲ تنه بېهوښه کېږي او خلک يې تر کورونو پوري په شا وړي. هغه کتاب هغه ځای.
جنید او سری سقطي باید داسي غټي لاپې کړي وای او د دونه لوړ مقام ادعا یې کړې وای چي د دوی تر وخته پوري هیڅوک ور رسېدلي نه ول. حضرت رسول ص په مدینه منوره کي یوولس کاله وعظونه وکړل. په یوه کتاب کي نه دي راغلي چي حتی یو تن د هغه د وعظ په اثر کوم وخت بېهوښه سوی وي. جنید به خدای خبر څه ویل چي ۱۸ تنه یې دونه تر اغېزې لاندي راغلل چي ځای پرځای یې ساه ورکړه. که اولیاءالله دونه لوی دروغ و نه وایی نو کوچني دروغ خو معمولاً نه خلک تر تأثیر لاندي راولي او نه یې څوک قبرونو ته سجدې کوي.
په زړه پوري خبره دا ده چي دا په اصطلاح اولیاءالله معمولاً له وفات څخه ۵۰ یا حتی ۱۰۰ او زیات کلونه وروسته مشهور سوي دي. کله چي د هغوی له وفات څخه دوه سوه یا زیات کلونه تېر سي نو هغه کسان چی د هغوی په زمانه کي یې ژوند کړی وي ټول مړه وي او په ژوندیو کسانو کي هیڅا ته په یاد نه وي. بیا چي نو هرڅه دروغ ویل کېږي عوام او جاهل خلک یې مني.
اخوند درویزه، چي یو متشرع عالم وو، او تر اوسه پوري د پښتونخوا، په تېره بیا سوات پښتانه هغه ته ډېر زیات اخلاص لري او اخوند درویزه بابا یې بولي، د خپلو نورو افسانو ترڅنګ یوه دا هم راوړې ده چي وایی ویل کېږي چي شیخ رکن الدین قدس سِرهُ ۱۵ میاشتي د مور په نس کي پاته سو. کله چي وزېږېدی نو نیکه یې شیخ بهاءالدین زکریا له هغه څخه په غوږ کي پوښتنه وکړه چي دونه ځنډ دي ولي وکړ. ده ورته وویل چي د مور په نس کي مي په هره میاشت کي دوې سیپارې قرآن شریف حفظ کاوه ځکه وځنډېدلم. درویزه، ارشاد الطالبین ص ۲۹۳
له اخوند څخه د عقل او دین د دې مخالفي کیسې په باب هیڅا د سوال کولو جرأت نه دی کړی چي که له شیخ رکن الدین سره دونه کرامت وو چي خپل زېږېدل یې شپږ میاشتي ځنډولای سوای، چي په هیڅ توګه د منلو نه ده، او د مور په نس کي یې، په لومړۍ میاشت، دوې سیپارې قرآن شریف په یاد زده کولای سوای نو ولي یې له خپل دې کرامت څخه داسې کار نه اخیست چي قرآن شریف یې په یوه دقیقه کي په یاد کړی وای. ناوخته زېږېدلو ته به یې هیڅ ضرورت نه وای پیدا سوی او ده به هم د مور په نس کي څو زره ځلي قرآن شریف ختم کړی وای. مګر زه یقین لرم چي که اوس هم څوک دا پوښتنه وکړي زموږ مُلایان به یې وهابي وبولي.
احوند درویزه دغه راز لیکي چي ویل کېږي شیخ بهاءالدین زکریا ته شیخ شهاب الدین دعا کړې وه چي هر څوک چي تا ویني او یا ستا جنازه ویني او یا ستا له وفات څخه وروسته ستا د زیارت مناره ویني هغه به دوږخ ته نه ځي. کله چي شیخ فریدالدین شکر ګنج دا واورېده نو په زړه کي یې ور وګرځېده چي ماته خو شیخ قطب عالم هیڅ دعا ونه کړه. شیخ قطب عالم د ده په زړه پوه سو او دعا یې ورته وکړه چي هر څوک چي ستا مرید سي او چي تر قیامته پوري ستا په سلسله کي داخل سي هغوی به له دوږخ څخه په امان وي. او شیخ رکن الدین وایی چي یوه شپه مي حق تعالی په خوب کي ولیدی او راته وې ویل چي هر څوک چي په شپه کي دا درې نومونه درې ځله تکرار کړي یعني شیخ رکن الدین، شیخ صدرالدین او شیخ بهاءالدین هغوی مي تاته وبخښل. هغه کتاب هغه مخ
احوند درویزه غوښتل د دې خُرافي او چټي کیسو په لیکلو سره د خپل کتاب صفحې زیاتي کړي او که یې ریښتیا دا کیسې منلي وې؟ که یې دا کیسې په ریښتیا هم منلي وې، چي زه یقین لرم منلي به یې وې نو په حقیقت کي ډېر ساده سړی وو. البته که سړی د صوفیانو نور کتابونه وګوري نو په دې عقیده کېږي چي اخوند درویزه چنداني ملامت نه وو. ځکه چي دغه راز کیسو بازار او خریدار درلود.
اخوند درویزه په خپل دغه کتاب کي دونه له شریعت سره مخالفي او له عقل او منطق څخه لیري کیسې راوړي دي چي سړی وایی دا یې متشرع عالم وو نو له نورو څخه به، چي لا سم مُلایان سوي نه دي، څه ګیله وي.
شیخان دومره خودخواه او په عین وخت کي دومره بې پروا دي چي، په بنده ګی کي، په هیڅ عالي او ښه صفت نه قانع کېږي او مستقیماً د حق صفاتو ته د رسېدلو دعوه کوي. شیخ شهاب الدین سهروردي په خپل کتاب کي لیکي « او د اخلاقو د تبدیل کوښښ کوي، تر څو د ربوبیت اخلاق او د الوهیت ذات په خپل ځان کي وښیي ( متجلي کړي) ابوعلي فارمدي رحمه الله ویل چي له خپل شیخ ابوالقاسم کرکاني څخه یې اورېدلي چي ویل یې تر څو چي سالک د حق متعال په ۹۹ نومونو متصف نه سي هغه به له حضرت عزت سره واصل نه سي . . . » سُهروردي، عوارف المعارف ص ۱۰۷
شیخ په دې پوهیږي چي چنداني ښه خبره یې نه ده کړې او خلک به یې په کفر تورن کړي نو وروسته وایی چي انسان باید تر ممکنه حده پوري د حق تعالی صفات په ځان کي پیدا کړي. مثلاً حق تعالی رحیم دی؛ بنده باید رحمت او زړه سوی ولري او دغه راز نور.
شیخ په دې مخ کي وایي چي بنده باید د حق متعال ۹۹ صفتونه په ځان کي ایجاد کړي؛ خو په بل مخ کي وایي چي د صوفي تر ټولو ښه خصلت تواضع ده!!! همان کتاب ص ۱۰۹
د حق تعالی په ۹۹ نومونو کي داسې صفت نسته چی له هغه څخه تواضع څرګنده سي بلکه هغه ذات کبریا دی او له هغه سره تواضع نه ښایی او نه راتلای سي. شیخ شهاب الدین سُهروردي نه پوهیږي چي د حق متعال په مقابل کي خپله بې ادبي څرنګه توجیه کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ځرنګه چي د صوفیانو اکثریت مرشدین ځانونه د حق متعال په مقام کي ویني، چي وروسته به یي مثالونه ورکړو، نو د دې ادعا د اثبات لپاره له هیڅ ډول دروغو څخه مخ نه اړوي او حتی پر حضرت رسول ص او حضرت علي باندي څرګند دروغ وایي. میافقیرالله په خپل یوه مکتوب کي لیکی: « . . . په دنیا او د حشر په ورځ کي چي یي موږ لمني ته لاس اچوو یعني حضرت رسول صلی الله علیه وسلم ویلي دي چي هر چا چي زه ولیدلم په حقیقت کي یي حق تعالی لیدلی دی. د دې امت د صحابه او صوفیه په خبرو کي داسي ادعاوي زیاتي دي مثلاً علي کرم الله وجهه په ځینو خطبو کي ویلي دي چي زه هغه خدای یم چي په کوه طور کی یي له موسی سره خبري کړي دي. . . » جلال آبادي، ګزیده مکتوبات ص ۲۱

میافقیرالله وروسته لیکي چي کله انسان په حق متعال کي فاني سو نو هلته خپل انساني صفات له لاسه ورکوي او سږی « بقا بالله » ته رسیږي. دلته نو که څه اوري د خدای په وسیله یي اوري او که خبري کوي نو د خدای په وسیله خبري کوي. میا وروسته په یوه جعلي حدیث قدسي استناد کوي او د حق تعالی له قوله وایي: « بنده د نفلونو په واسطه زما سره د نیژدې کېدلو تلاښ کوي څو زه یي دوست کړم او کله چي زه ورسره دوست سوم نو د هغه غوږونه او سترګي او لاس او پښي سم ( حدیث القدسي) » هغه کتاب ص ۲۴

که زموږ مُلایان دومره بېخبره وي چي د میافقیرالله جلا آبادي آثار یي، چي د احمدشاه بابا د عصر سړی دی؛ او تقریباً ټول آثار یي موجود دي، نه وي لوستي نو بیا خو دوی ډېر بېخبره خلک دي او که یي د هغه آثار لوستي وي او د کُفر فتوا یي صادره نه کړي نو بیا خو د دوی قضاوت تر سوال لاندي راځي. ځکه چي میافقیرالله خو نه یوازي پر حضرت رسول ص او حضرت علي باندي دروغ ویلي دي نه یوازي یي قدسي حدیثونه جعل کړي دي بلکه د خدایي دعوه یي کړې ده او په هر صورت د کُفر د فتوا لایق وو.

حسین بن منصور حلاج د دغه ډول صوفیانو په کتار کي، چي د خدایی مقام ته یي ځانونه رسېدلي بلل، تر ټولو مشهور دی او ډېرو صوفیانو د هغه اناالحق ناري ته پلمي او لاري جوړي دي. مولنا جلال الدین رومي خو وایی چي منصور د اناالحق په ناره سره خپله تواضع وښودله او ځان یي د حق په مقابل کي نېست حساب کړ. مګر کله چي د هغه یوه نظم ته ګورو نو د مولنا خبره ډېره پر ځاي نه ښکاري. منصور نه یوازي تواضع نه کوي. نه یوازي ځان نېست نه بولي بلکه د خالق هستي له خپل وجود سره ترلي بولي.

نهان وآشکاری در تجلی

به هر چیزی ز هر چیزی تو یی بیش

نه نادانم که پوزش خواهم از تو

نه از شک و نه از خامی در اندیش

تویی هرچیز و جز من نیستی تو

چرا پوزش بخواهم خویش از خویش. مازینیونو قوس زندګی منصور حلاج ص ۳۳

هم په پټه هم ښکاره دي جلوه بله

په هر څه کي تر هر څه ډېر یي پخپله

نه ناپوه یم چي له تا غواړم بخښنه

نه له شک او نه اوموالي څخه اندېښنه کړم

ته هر څه یي چي زه نه یم نو ته نه یي

زه پرڅه له ځانه خواست د بخښي وکړم .

منصور وایی که له هغه څخه چي زه یي په زړه کي لرم یوه ذره د دنیا پر غرونو باندي ولوېږي ټول غرونه به ویلي سي. او وایي چي ستا روح مي له روح سره داسي ګډ سو لکه عنبر چي له خالص مشک سره مخلوط سي. او ستا روح مي له روح سره داسي مخلوط سو لکه شراب چي له زلالو اوبو سره ګډ سي. هغه کتاب ص ۲۲

په دې باره کي د پیرانو کیسي دونه ډیري دي چي ښایی په دې مختصر بحث کي ځای نه سي. زما مطلب بیا هم د فتوا دی چي مُلایان او مفتیان د ځینو مشهورو اشخاصو او شیخانو د کفر څخه بېخبره دي او که له وېري څه نه وایي.

د مثال په توګه د صوفیانو یو مشهور شیخ، ابوالحسن خرقاني، چي د بنده ګانو عالي مقاماتو ته رسېدلو د ده د خودخواهی تنده نه سوای ماتولای نو د خپل مسلک د نورو لویو شیخانو په څېر یي له خدای سره د مستقیمو خبرو او حتی نعوذبالله! ټوکو ادعا کوله. نقل کا: یوه شپه شیخ پر لمانځه ولاړ وو او یو اواز یي واورېدی چي ویل یي اې بوالحسنه! غواړې چي خلک در خبر کړم او سنګسار دي کړي؟ شیخ وویل اې خدایه! غواړې چي ستا د رحمت په باره کي چي په څه پوهېږم او ستا د کرم په باره کي چي څه رامعلوم دي خلکو ته ووایم څو هیڅوک بیا سجده ونه کړي؟ آواز راغی چي نه به زه څه وایم او مه ته څه وایه. . . . او ویل یي خدای له نورو څخه د بنده ګی نښانه وغوښته او زما څخه یي د خدایي. او ویل یي کله چي د عرش کنګري ته ورسېدم نو ملایکي مي مخي ته راوتلي وې او ویل یي موږ د حق ذکر کوو او پاکي یو. ما ورته وویل موږ هواللهیان یو. فرشتي خجالت سولي او مشایخ زما له دې جواب څخه خوشاله سول. عطار، جلد دوم ص ۱۷۸

په دې باره کي د شیخ خرقاني لاپي او کفرونه دونه ډېر دي چي که ډېر په تفصیل کي څو نو زه بېرېږم چي د لوستونکو حوصله به ختمه سي. سوال دا دی چي چا په ژوند کي کوم مُلا لیدلی دی چي د ابوالحسن خرقاني یا بل کوم لوی شیخ د کُفر فتوا یي صادره کړې وي؟ په داسي حال کي چي ټول مُلایان پر هر منبر باندي ناري وهي چي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولــئ

هر څوک چي دين بدل کړي مرگ يې روا دی. که د دين د بدلولو مطلب شرک وي نو دا لوی شيخان او پيران خو اکثر مشرکين دي.
د سُهرورديه طريقې موسس شيخ شهاب الدين سهروردي، چي د اهل تسنن د صوفيانو او علماوو يو له تر ټولو معتبرو او د احترام وړ شيخ دی، نه يوازي يې احاديث جعل کړي، نه يوازي يې د قرآن شريف آيات، په لوی لاس د خپلو تصوفي افکارو لپاره، تحريف کړي دي بلکه د شيخ خرقاني او نورو شيخانو په څېر خدای د ځان په جامه او ځان د خدای په جامه کي ويني. په داسي حال کي چي موږ ټول مسلمانان، سُني او شيعه، په دې عقيده يو چي د خدای او انسان ترمنځ ارتباط د بادار او بنده ترمنځ ارتباط دی او نور هيڅ ډول اړيکي نه ورسره لرو. شيخ په خپل يوه شعر کي وايي:

ای دوست وجود و عدمت اوست همه
سرمايه شادی و غمت اوست همه
توديده نداری که ببينی اورا
ورنه ز سرت تا قدمت اوست همه.

ترجمه: اې دوسته ستا وجود او عدم ټول هغه دی
سرمايه د خوښی او د غم ټول هغه دی
ته سترگي د ليدلو د هغه نه لرې
کنه نو ستا له سر تر قدم ټول هغه دی.

د حق متعال وجود د بنده له وجود سره څه ارتباط لري؟ دا د هندو جوگيانو او عابدينو عقيده ده، چي موږ به وروسته اشاره ورته وکړو.
شيخ شهاب الدين نه يوازي د شيخی او مريدی په برخه کي، چي په اسلام کي يې هيڅ اساس نه درلود او، لکه مخکي چي مو وويل، حضرت رسول اکرم ص په خپل ټول ژوند کي يو ځل هم اشاره نه ده ورته کړې، احاديث جعل کړي دي. دغه راز يې نور احاديث هم جعل کړي دي او د حضرت رسول ص د دې حکم په اساس چي هر څوک په هغه پوري دروغ وايی خپل ځای دي په دوږخ کي وگوری، په هغه پوري مستقيم دروغ ويلي دي او د هغه مبارک له قوله وايي:« له هجرت څخه دوه سوه کاله وروسته، تر ټولو فاضل او بهترين کس به هغه وي چي ملا او حال يې سپک وي. پوښتنه ورڅخه وسوه چی يا رسول الله ص حال څشی دی؟ په جواب کي يې ورته وويل هغه کسان چي نه مېرمن ولري او نه اولاد.
بشرحارث ته يوه چا وويل چي خلک پر تا باندي بد وايي. ويل ولي؟ هغه ورته وويل چي تا موءکّد سنن پرې ايښی دی يعني ښځه نه لرې. بشر حارث ورته وويل هغوی ته ووايه چي زه له فرض سره دونه مشغول يم چي د سنت ادا کولو ته مي وخت نه دی پيدا کړی» سُهروردی، ص ص ۸۶-۸۷
دا حديث به سُهروردي له کومه کړی وي؟ موږ ټولو ته هغه حديث معلوم دی چي حضرت رسول ص له يوه ځوان څخه پوښتنه کړې وه چي واده لرې؟ هغه ورته ويل نه. حضرت رسول ص ورته وويل ته د شيطان ورور يې. او حتی داسي حديث لا هم موجود دی چي حضرت رسول ص وويل زما په امت کي تر ټولو بهتر هغه دی چي ډېري ښځي ولري. حضرت رسول اکرم ص هيڅ وخت د عزوبت يا مجردی تبليغ او غوښتنه نه ده کړې بلکه تل يې خپل امتيان واده کولو ته تشويقول او واده لرل يې د زنا او شيطاني کارونو د مخنيوي يوازينی او حتمي وسيله بلله. ( النکاح سنّتی من رغب عن سنتی فليس منی.) نکاح زما سنت دی. هر څوک چي زما له سنت څخه مخ اړوي هغه زما په امت کي نه دی.
سُهروردي، په لوی لاس او بې ضرورته، په حضرت رسول ص پوري دروغ ويلي او ځانته يې په سقر کي کوټه نيولي ده. ما له هيڅ مُلا او ديني عالم څخه نه دي اورېدلي چي يا يې د سهروردي عقيده محکومه کړې، چي مخکی يې ما يو نظم هم درته وليکی او يا يې د هغه د احاديثو جعلول محکوم کړي وي. ملايان که په ريښتيا هم شِرک محکوموي نو د سهروردي په څېر لويو او مشهورو شيخانو خواته دي توجه واړوي. دا خبره ځکه کوم چي عوام که کافران هم سي ټولني ته يې د مشهورو شيخانو د شِرک په اندازه تاوان نه رسيږي. ځکه چي عوام د شِرک په اختيارولو سره يوازي ځان ته تاوان رسوي او ځان دوږخ ته اچوي مگر شيخان په سل گونو او ځيني په زرگونو پيروان او مريدان لري او هغوی ټول له ځان سره کافران کوي.
مشهورو شيخانو، چي تر اوسه پوري يې د زهد او تقوا او کراماتو ستاينه کيږي، په لويو دعوو، کفر ويلو او د خدايي مقام ته د رسېدلو په دعوو کي رقابت سره کاوه. حسين بن منصور حلاج د اناالحق يا زه حق( خدای) يم دعوه وکړه او د هغې دعوې په اثر اعدام سو. نورو صوفيانو، د حسين بن منصور حلاج په څېر، يا د خدايی دعوې کړي يا وروسته ورپوري تړلي سوي دي خو مُلايانو او ديني عالمانو تر اوسه پوري هغوی محکوم کړي نه دي. بايزيد بسطامي په دې خبره چي « ليس فی جبتي سواءالله » په خرقه کي مي له الله پرته بل څوک نسته، ډېر مشهور دی خو هيچا هيڅ نه دي ويلي. « ابويزيد ( بايزيد بسطامي) يوه ورځ په خلوت کي ذکر کاوه. له دروازې څخه دباندي چا ورباندي بږغ کړه چي هل ابويزيد فی البيت؟ ابويزيد کور دی؟ ابويزيد له خلوته څخه ور بږغ کړل چي هل فی البيت الّاالله؟ آيا په کور کي له الله پرته بل څوک سته؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

حسین بن منصور حلاج په خپل یوه مناجات کي وایی:
لبیک لبیک یا سیدی و مولایی
لبیک لبیک یا قصدی و معنایی
یا عین عین وجودی منتهی هممی
یا منطقی و اشاراتی و انبایی
یا کل کل و یا سمعی و یا بصری
یا جملتی و تباعیضی و اجزایی . هجویری، ص ص ۲۳۱-۳۲
ترجمه:
لبیک لبیک زما ښاغلي زما مولا
لبیک لبیک زما مطلبه زما معنا
ته زما ټوله وجود یې سرتر نوکه
هم منطق یې او هم زېری محبوبا
ټول وجود یې ته غوږونه ته مې سترګې
هم مې کل هم د بدن ټوله اجزاء .

ابویزید په خلوت کي ناست وو او دباندي سړي ته وایي چي آیا په کورکي له الله پرته بل څوک سته؟ بایزید په دې خبري سره کفر کړی دی. د الوهیت د مقام دعوه یې کړې ده. مُلایانو که په هغه وخت کي بایزید کافر نه وي بللی نو اوس یې باید د کفر فتوا صادره کړي او که د هغه د کفر فتوا نه صادروي نو د کشف المحجوب د کتاب د لیکوال داتا ګنج بخش د کفر فتوا باید صادره کړي؛ چي هر کال یې زیارت ته په سل هاوو زره خلک ورځي او د اسلام د ټولو احکامو په خلاف نذرونه وروړي. هجویري یا د پاکستانیانو په اصطلاح داتاګنج بخش ځکه باید محکوم سي چي د شِرک د افکارو او عقایدو د خپرولو مسوول دی. ُملا ځکه د لویو شیخانو او مرشدینو د کفر فتوا نه سي صادرولای چي د عوامو له ذهنیت څخه بیرېږي. که دوی د دې فتوا د صادرولو جرأت وکړي نو خلک به دوی کافران او وهابیان وبولي.

کله چي حق متعال د حسین بن منصور ټول وجود، غوږونه او سترګي او د وجود ټول ذرات سي نو هغه باید د خدایي دعوه وکړي. دا هغه ادبیات دي چي د اسلام په دین کي هیڅ وخت موجود نه ول او ټول له بهر، په تېره بیا له هندو مذهب څخه اسلام ته راننوتلي دي. ځیني صوفیان لوی عالمان او د اسلام په دین کي وارد خلک ول او اکثر یې لوی شاعران ول؛ ځکه یې خپلو افکارو ته د اسلامي رنګ ورکولو لپاره په دلایلو خلکو ته قناعت ورکولای سوای. او ځکه یې خلک سوونه کلونه وروسته اوس هم زیارتونو ورځي او پر قبرونو یې طوافونه کوي او سجدې ورته کوي چي دوی ځانونه اولیاءالله بلل او خپلو ټولو کفرونو او مزخرفاتو ته یې د باطن رنګ ورکاوه. ساده عوام د هغوی د نامه له اخیستلو څخه بیرېږي او چي د شیخانو هر بد عمل او هر کُفر ته ګوته ونیول سي دوی وایي دا د خدای دوستان ول او د هغوی په کارونو یوازي خدای ښه پوهېږي.

له کفارو سره جهاد پر ټولو مسلمانانو باندي فرض دی. مګر اوس داسي شرایط دي چي کفار د مسلمانانو سل چنده قدرت لري او که مسلمانان جنګ ورسره وکړي په یو څه وخت کي به ټول اسلام تباه سي. حق تعالی په قرآن شریف کي مسلمانانو ته حکم کوي چي په لوی لاس ځانونه مه وژنی. نو اوس بیرته هغه شرایط راغلي دي چي له هجرت څخه مخکي په مکه کي حاکم وه او د مسلمانانو شمېر تر ۳۵ تنو نه زیاتېدی. او مسلمانان باید اوس بیرته د الکافرون ۱۰۹ سورة په آیتونو تمسک وکړي او کفارو ته ووایی چي ستاسی خپل دین او زموږ خپل دین دی.

مګر که له کفارو سره د جهاد داعلانولو امکانات نسته نو د اسلام په داخل کي له شرک سره د مبارزې او مجادلې بشپړ امکانات موجود دي. او تر څو چي شِرک په اسلام کي دننه له منځه ولاړ نه سي اسلام به ورځ تر بلې کمزوری کیږي.

تاسي فکر کوی چي ملایان په دې حقیقت نه پوهیږي چي نن ورځ زیارتونه د شِرک مرکزونه دي؟ نو ولي یې، له تبلیغ څخه پرته، هیڅ عملي اقدام نه دی کړی. دوی هره ورځ نهویني چي ناپوه عوام پیرانو او شیخانو ته پر سجدو ورځي او د شِرک مرتکب کیږي؟ دوی هر څه ویني خو له یوې خوا، لکه مخکي چي مو وویل، د عوامو له ذهنیت څخه بیرېږي او له بلې خوا یې د عوامو جهالت په ګټه دی. که عوام دونه هوښیار سي چي د پیرانو او زیارتونو د بنده ګی او غلامی کړی له غاړي وباسي او په دې وپوهیږي چي پیر او زیارت ته سجده کفر دی نو بیا د دوی پر هره خبر او حکم هم غوږ نه نیسي. اوس چي د ملایانو هر څوک خوښ نه وي پر هغه باندي د کافر او وهابي نوم ایږدي او خلک یې ځکه هر امر په پټو سترګو مني چي له هغوی سره د حقیقت د معلومولو وسیله، چي پوهه ده، موجوده نه ده؛ او د دیني اطلاعاتو او دیني احکامو یوازینی وسیله یې مُلایان دي.

سید جمال الدین افغاني، له نن څخه زیات وکم ۱۵۰ کاله مخکي د سوات د اخوندصاحب، چي پخپله هم شیخ او مرشد وو او تر ننی ورځي پوري یې په زهاوو عالمونه زیارت ته ورځي، په باره کي لیکي: « . . . کله چي هغه پوه سي چي د افغانانو په کوم ښار کي یو شیخ راپورته کیږي او یا دې ته تیار دی چي په خلکو کي تبلیغ وکړي او د خلکو په منځ کي مقام حاصل کړي نو شیخ دفعتاً د هغه د وهابیت حکم صادروي. څو د خلکو په ذهنیتونو کي نفرت ورته ایجاد کړی او په دې توګه یې په ډېر فجیع شکل بدنام کړي» افغاني، تتمت البیان، ص ۱۷۱


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

بايزيد بسطامي ويل زه داسی سمندر يم چي نه يې ژوروالی چاته معلوم دی او نه يې سر اوپای معلوميږي. بايزيد وويل زه عرش يم، زه کرسي او قلم يم. زه ابراهيم، موسی او عيسی يم. زه جبرييل، مکاييل او اسرافيل يم. بلې هر څوک چي په حق کي محو سي او د هر څه حقيقت ته ورسيږي بيا نو له حق څخه پرته بل څه نه ويني. عطار، تذکرةالاولياء جلد اول ص ۱۶۰

« . . . بايزيد ته چا وويل چي د قيامت په ورځ به ټول مخلوق د حضرت رسول ص تر بيرغ لاندي را جمع وي. بايزيد وويل د خدای په خدايي مي دي قسم وي چي زما بيرغ به د حضرت رسول تر بيرغ لوی وي او ټول پيغمبران به زما تر بيرغ لاندي وي. ځکه چي زما په څېر به نه څوک په اسمان کي پيدا کړی او نه به په ځمکه کي زما مثال پيدا کړي. زما صفات په غيب کي غايب دي . . . » هغه کتاب ص ص ۱۶۳-۶۴

بايزيد دونه کفرونه کړي دي چي بايد په يوه بېل کتاب کي وليکل سي او په دې کفرونو کي شيخ عطار، شيخ جامي او ټول هغه شيخان شامل دي چي پر دغو صوفيانو يې کتابونه ليکلي دي او د هغوی دغو کفرونو او لاپو ته يې تبليغات کړي دي.

دا کفرونه او دغه ډول کفر ډوله لاپې کشکي يوازي بايزيد او منصور کړي وای. هر مشهور شيخ او صوفي کوښښ کړی دی چي په کفر او لاپو کي تر سيالانو پاته نه سی. ويل کيږي چي شبلي نعماني اودس کړی وو او مسجد ته د ننوتلو په حال کی وو چي ږغ ورباندي وسو يا ابابکر! اودس لرې چي په دې گستاخي زموږ کورته داخليږې؟ شبلي چي دا واورېده نو بيرته ستون سو. بيرته ږغ ورباندي وسو چي زموږ له کوره څخه ځې چيري به ولاړ سي؟ شبلي يوه لويه چيغه وکړه. بيرته آواز ورباندي وسو چي زموږ سره بې ادبي کوې؟ شبلي ځای پرځای خاموش ودرېدی. بيرته ږغ ورباندي وسو چی ته اوس زموږ د مصيبت په مقابل کي د تحمل دعوه کوې؟ شبلي په زوره ږغ کړه چي ستا څخه تاته شکايت کوم. هجويري. کشف المحجوب، ص ۲۷۸

سړی نه پوهيږي چي يو شيخ د حق متعال په برخه کي دومره بې ادبي څرنګه کولای سي؟ له اسمان څخه د ندا او آواز څخه يې دومره مسخره څرنګه جوړه کړې ده. که له مُلايانو څخه په دې باره کي پوښتنه وسي حتماً به د عوامو په څېر درته ووايی چي د خدای د دوستانو عجيب کارونه دي. موږ بايد په دې باره کي خبري ونه کړو.

د صوفيانو يا د عوامو په اصطلاح د خدای په دوستانو کي يو هم عين القضاة همداني وو، چي د کفر او الحاد په تور په ۵۲۵ هـ ق کي د ۳۳ کالو په عمر په همدان کي اعدام سو. هغه کيسه کوي چي « زه او پلار مي يوه ورځ د يوه صوفي په کور کي وو او د ښار مشهور امامان هم حاضر ول. موږ رقص کاوه او بوسعيد ترمذي بيتونه ويل. زما پلار وويل چي خواجه احمد غزالي زموږ سره رقص کاوه او د مکاشفي په توګه يې د هغه د کاليو نښاني هم وويلې. په دې وخت کي ابوسعيد وويل چي زه مرګ غواړم. ما ورته وويل چي مړ سه. هغه سمدستي بېهوښه سو او مړ سو. په دې وخت کي د ښار مفتي حاضر وو او ماته يې وويل چي ژوندی وژلای سي نو مړی هم ژوندی کولای سې؟ ما ورته وويل څوک مړ دی. مفتي وويل فقيه محمود وفات سوی دی. ما وويل خدايه فقيه محمود بيرته ژوندی کړه او هغه په هماغه ګړي ژوندی سو» جامي، نفحات الانس، ص ۴۱۵

شيخ عبدالرحمن جامي، چي تر اوسه پوري يې هر کال په زرهاوو خلک زيارت ته ورځي، د دغه ډول کفري کيسو د راوړلو او پر هغو باندي د کتاب ليکلو مستقيم مسووليت لري او د لويو صوفيانو او په اصطلاح د خدای د دوستانو د شرک او ارتداد په ادعاوو کي ورسره شريک دی. ما له هيڅ مُلا څخه نه دي اورېدلي چي د عبدالرحمن جامي پر کتاب يې يو وخت انتقاد قدر کړی وي، محکومول او غندل خو يې لا هلته پرېږده. مسلمانان که فتوا ته ضرورت لري نو دغه يې ځای وو، نه دا چي د لمانځه په نه کولو د خلکو د کفر فتوا صادره کړي. د لمانځه د نه کولو تاوان يوازي پخپله هغه بنده ته رسيږي چي لمونځ نه کوي خو د جامي کتاب د عالمونو د ګمراهی سبب کيږي.

پخپله مولنا عبدالرحمن جامي څرنګه داسي يوه کيسه را اخلي چي هغه نه حقيقت لري او نه د اسلام د دين له اصولو او عقايدو سره برابره ده. جامي په دې نه پوهېدی چي د مړي بيرته ژوندی کول يوازي د حق متعال په وس کي دي؟ جامي په دې نه پوهېدی چي د مړي ژوندی کول د قضا د ګرځولو معنی لري؟ هغه په دې نه پوهېدی چي روح يوازي د حق متعال په اراده کي دی او بخښل او اخيستل يې هم يوازي په خالق تعالی پوري اړه لري؟

د حضرت رسول اکرم ص د لور( په حديث کی يې نوم نه دی ښودل سوی) زوی يې په داسي حال کي آنحضرت ص ته راووړ چي وروستي نفسونه يې ايستل. اسامه وايي په هغه ورځ مبارک ص دونه وژړل لکه په سترګو کي چي يې د اوبو ډک مشک وي. بخاري، کتاب الجنايز حديث ۴۴

په بل حديث کي راغلي دي چي د حضرت رسول ص لور وفات سوه. دی يې قبر ته ناست وو او ژړل يې. هغه کتاب حديث ۴۵

متوجه ياست؟ حضرت رسول اکرم ص خپل لمسي او لور ته چي ورپسي ژړل يې نفس نه سو ورکولای. عين القضات همداني به څوک وو چي مړي يې ژوندي کول او ژوندي يې ، يوازي په يوه خبره، مړه کول؟ د صوفيانو ټول کتابونه له دغه ډول مزخرفو کيسو څخه ډک دي او که دا ډول کيسي ونه لري هغه به د صوفيانو کتابونه نه وي. خو سوال دا دی چي دلته فتوا څه سوه؟ مُلايان ولي د دې څرګند شِرک په مقابل کي چوپ دي؟

په ايران کي، چي په سيمه کي د تصوف يو لوی مرکز او ډېر لوی صوفيان پکښی زيږېدلي او مشهور سوي دي، د صوفيانو د دغه راز کيسو پر ضد چنداني څه نه دي خپاره سوي او ما پخپله يوازي د احمد کسروي يو وړوکی کتاب « صوفيګري» لوستی دی؛ چي د صوفيانو د دغه راز کيسو او د هغوی د مضرو افکارو او اعمالو پر ضد يې ليکلی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

دی. په افغانستان کي ما نه په دري او نه پښتو ژبه د صوفيانو د ژوند او عقايدو په باره کي داسي څه لوستي دي چي هغوی دي د صوفيانو په باره کي د خلکو ذهنونه روښانه کړي. مُلايانو نه څه ويلي او نه به يې ووايی. او که څوک د حقيقت ويلو جرأت وکړي نو هغوی سمدستي د وهابي خطاب ورته کوي؛ ځکه دوی په دې پوهيږي چي د افغانستان خلک په وهابيت نه پوهيږي او تقريباً ټول فکر کوي چي وهابيان کافران دي. بالاخره بايد يو څوک يو څه وليکي او د وهابي نوم پر ځان قبول کړي. تاسی دې کيسې ته ځير سی او قضاوت وکړی:

« سُفيان ثوري يوه ورځ روان وو او يوه مرغۍ يې وليده چي په قفس کي يې ډېري غمګيني نارې وهلی او د ده ډېر زړه وربانډي وسو. هغه مرغۍ يې له صياد څخه را نيوله او خوشي يې کړه. خو مرغۍ هيڅ خواته نه تله او له سُفيان سره ملګرې سوه؛ او کله چی به ده لمونځ او عبادت کاوه نو مرغۍ به ورته کتل لکه د ده ساتنه چي کوي. کله چي سُفيان وفات سو نو مرغۍ له هوا څخه د هغه پر قبر باندي را پرېوته او ځان يې وواژه. د سُفيان له قبر څخه يو اواز واورېدل سو او ويل يې چي خدای ځکه سُفيان وباخښه چي دهغه پر مخلوقاتو يې زړه سوی درلود» Rizvi, A History of Sufism in India Vol 1 P 32

لومړی خو سُفيان ثوري ( ۷۱۵-۷۷۸ ميلادي) يو فقيه او محدث وو. هغه هيڅ وخت د کراماتو دعوه نه وه کړې او د هغه د کراماتو په باره کي چي څه ليکل سوي دي هغه ټول وروسته اختراع سوي کيسې دي؛ چي ټولي يا اکثري يې صوفيانو، د خپل تجارت لپاره، جوړي کړي دي. او که د کراماتو کيسه سي نو لومړی خو مرغه ته خدای دونه عقل نه دی ورکړی چي د احسان په بدل کي دي د قربانۍ احساس ورته پيدا سي. او که دا هم ومنو چي اولياء کله کله عجيب کرامتونه کوي نو د سفيان ثوري له قبر څخه دا آواز چا واورېدی چي حق متعال هغه ته بخښنه وکړه.

پاته لري

[په افغان جرمن آنلاين کي پورتال د ليکوال آرشيف]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ